افغان جرمن آنلاین ۲۰۱۸/۰۱/۲۳

د افغان استرالیا د بشردوستانو د ټولنې خبرتیا!

د افغان استرالیا د بشردوستانو د ټولنې په نوښت او د ځینو نورو ملبورن میښتو فرهنګي ټولنو په ګډون، د ۲۰۱۸م کال د جنوري د میاشتې په شلمه نېټه د شنبې په ورځ د کیسبارو په هنري تیاتر کې د شعر او هنر تر عنوان لاندې یوه پرتمینه غونډه جوړه شوه. غونډه، د لوی خدای(ج) په نامهٔ د ښاغلي دُر محمد اشنا د افغان استرالیا د بشر دوستانو د ټولنې د مشر په وینا پرانستل شوه. نوموړي د خپلو خبرو په یوه برخه کې وویل: د دې غونډې د پرانستلو موخه د افغانستان د پخوانیو او اوسنیو نامتو او مشهورو شاعرانو، ادیبانو، لیکوالانو او هنرمندانو د لوړر او ارزښتمندو خدمتونو ستاینه او د دې تر څنګ نوي کهول ته د داسې یوهٔ پیغام رسول دي، چې هغوی د خپل هېواد د نامتو لیکوالانو، شاعرانو او هنرمندانو په هکله یو څهٔ پوهه او معلومات ترلاسه کړي. هغهٔ دا هم وویل چې په اوسنیو حالاتو کې چې د افغانانو ملي وحدت ته په بېلابېلو علتونو څهٔ ناڅهٔ زیان رسېدلی، د داسې ګډو فرهنګي غونډو جوړل به د افغانانو تر مینځ د یووالي او اتفاق سبب هم شي.

د غونډې په بله برخه کې ښاغلي نصیر قدیري د باختر د فرهنګي ټولنې په استازیتوب د هغې ټولنې پیغام او د پیاوړي لیکوال او شاعر ښاغلي (مسعود فاراني) هغه تقریظ چې پښتو ته د ژباړل مثنوی معنوی په هکله لیکلی دی ولوست او هیله یې څرګنده کړه چې د داسې فرهنګي غونډو جوړول باید دوام ومومي.

همدا شان په دې غونډه کې د ښاغلي نازکمیر زهیر(زهیربلخی) د هغو ارزښتمندو خدمتونو ستاینه او قدردانی هم وشو، چې په دې وروستیو کې یې د ښاغلي مولانا جلال الدین محمد بلخي(رح) نامتو اثر (د مثنوي معنوي دیوان) په ډېر زیار او کره توب سره پښتو خوږې ژبې ته ژباړلی دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د غونډې په ترڅ کې ښاغلي نازکمیر زهیر(زهیر بلخی) د ښاغلي مولانا جلال الدین محمد بلخي د څو بُعدي شخصیت په تړاو هر اړخیزه وینا او څرګندونې وکړې. نوموړي د خپل ژباړل شوي کتاب په هکله هم حاضرینو ته څرګندونې او معلومات ورکړل. هغهٔ ژمنه وکړه چې په راتلونکې کې به خپلو ادبي چارو ته په کلک هوډ سره دوام ورکوي.

د پښتو او دري ژبو د شعرونو د لوستلو په برخه کې ښاغلیو حمیدالله زرافشان او محمد اسمعیل اړم خپل شعرونه حاضرینو ته وړاندې کړل چې په ښو احساساتو بدرګه شول.

همدا راز په دې غونډه کې ښاغلي نازکمیر زهیر(زهیربلخی) ته د هغهٔ د لوړو او ارزښتمندو خدمتونو په ویاړ چې دهٔ ترسره کړیدي، د افغان استرالیا د بشر دوستانو د ټولنې په استازیتوب، ښاغلي ډُر محمد اشنا یو ستاینلیک هم ډالۍ کړ.

په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د داسې فرهنګي غونډو جوړولو ته به، په راتلونکې کې د نورو فرهنګي ټولنو په مرسته او ګډون سره دوام ورکول کېږي.

غونډه د موسیقۍ د کنسرت په و ړاندې کولو سره پای ته ورسېده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ